

# راستنیدنه عودت

اونیز | هفته نامه

د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

۱۰۸مه ګڼه، ۱۴۰۵ زمري: لومړی مخ/ شماره ۱۰۸ اسد ۱۴۰۵:صفحه اول


## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر د کابل جهادي مدرسې له مدرسینو او مسوولینو سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر نن د شیخ محمد ابراهیم سعید په ملتیا د کابل جهادي مدرسې له محترمو مدرسینو او مسوولینو سره وکتل.

په دې ناسته کې، چې د کابل جهادي مدرسې پر مهتمم محترم شیخ محمد ابراهیم سعید سربېره شیخ فقیر محمد محمدي، شیخ عبدالغني حقاني، شیخ محمد اسماعیل رحماني او څو تنو نورو شیخ صاحبانو هم حضور درلود، د جهادي مدرسو د فعالیت او لاسته راوړنو په اړه خبرې شوې.

د کابل د جهادي مدرسې مسوولینو د اسلامي امارت د واکمنۍ له بیا پیل سره سم د نورو تعلیمي مرکزونو تر څنګ د جهادي مدرسو فعالیت خورا مهم یاد کړ او زیاته یې کړه، چې جهادي مدرسو افغان ځوانان ته ګڼې اسانتیاوې رامنځته کړې او اړ نه دي، چې د لوړو زده کړو لپاره بهر ته سفر وکړي.

د دوی په وینا چې د اسلامي امارت د ملاتړ په پایله کې ورځ تر بلې د جهادي مدرسو لاسته راوړنې او امکانات زیاتېږي او تمه ده، چې زده کړو ته لا ډېر ځوانان جذب شي.

د ناستې پر دوام هغوی د یو لړ موضوعاتو په اړه خپل وړاندیزونه شریک کړل.

محترم مولوي عبدالکبیر د کابل د جهادي مدرسې مسوولینو او حاضرو علماوو ته ښه راغلاست وویل او اسلامي نظام ته د خدمت په برخه کې یې د هغوی هڅې وستایلې.

نوموړي د جهادي مدرسو فعالیت اغېزمن یاد کړ او زیاته یې کړه، چې اسلامي امارت د عصري او دیني زده کړو پراختیا او ودې ته ژمن دی.

هغه د علماوو او زده کوونکو ملاتړ خپل مسوولیت یاد کړ او یادونه یې وکړه، چې اسلامي امارت به له تعلیمي برخو څخه خپل امکانات ونه سپموي.

د ناستې په پای کې محترم مولوي عبدالکبیر شریک شوي وړاندیزونه مهم وبلل او ورته د رسېدنې یادونه یې وکړه.



## وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان در سفرش به ولایت پکتیا، در برنامه توزیع مواد غذایی برای خانواده‌های برگشت کننده شرکت و سخنرانی کرد

محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت‌کنندگان، در جریان سفرش به ولایت پکتیا، در برنامه توزیع مواد غذایی برای خانواده های بی بضاعت برگشت کننده اشتراک و سخنرانی نموده گفت:افغان‌ها به خاطر حفظ دین و برای ایجاد نظام اسلامی، مجبور به مهاجرت شدند و در مسیر جهاد گام نهادند.

وی از کمک هایی که به افغان‌های مهاجر شده، تشکری کرده افزود: مهاجرین افغان بار دوش کشور های میزبان نبوده و مشکلات خود را تا حد بسیار زیادی خودشان حل کرده‌اند.

محترم وزیر امور مهاجرین اظهار داشت: مهاجرین افغان به اهداف بزرگ خود، که شامل پایان اشغال و تشکیل نظام اسلامی می‌شود، دست یافته‌اند.

ایشان در ادامه افزود: از زمان آغاز حاکمیت امارت اسلامی، حدود هشت میلیون افغان از کشورهای همسایه به کشور بازگشته‌اند و این روند هنوز ادامه دارد.

وی گفت: امارت اسلامی به مشکلات عودت‌کنندگان توجه دارد و تا حالا به هزاران مهاجر برگشت کننده نمره زمین بخاطر اعمار سرپناه اختصاص داده شده و انتظار می‌رود که به همه نیازمندان زمین برای اسکان داده شود.

محترم مولوی عبد الکبیر به توزیع بیشتر مواد غذایی اشاره نمود و اضافه کرد که با نهادهای مربوطه، در حال آماده سازی کمک به ۲۶ هزار خانواده دیگر هستند.

وی در پایان سخنان خود از همکاری های همه مؤسسات خیریه تقدیر کرد و از مسلمانان جهان خواست که در کمک و همکاری با افغان‌های نیازمند همکاری کنند.

این روند توزیع مواد غذایی با حمایت بنیاد خیریه امه و تلاش‌های وزارت امور مهاجرین آغاز شده و تا کنون در ولایات پکتیا و لوگر انجام شده است قرار است این پروسه به پنج ولایت دیگر هم گسترش یابد.

این کمک ها در هر ولایت به هزار خانواده توزیع می‌شود که شامل ۲۵ کیلو برنج، ۱۰ کیلو لوبیا، ۱۰ کیلو نخود، ۵۰ کیلو آرد، ۲۰ کیلو شکر و ۱۵ لیتر روغن است.



## د مهاجرینو چارو وزیر پکتیکا کې سلګونو راستنو شویو کورنیو ته د خوراکي توکو وېش په برنامه کې ګډون وکړ

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر محترم مولوي عبدالکبیر نن پکتیکا ته د سفر په ترځ کې سلګونو راستنو شویو بېوزلو کورنیو ته د خوراکي توکو د وېش په برنامه کې ګډون او وینا وکړه.

په دې برنامه کې، چې د پکتیکا والي مولوي عبدالخالق عابد او نورو سیمه ییزو مسوولینو هم ګډون کړی و، په پیل کې ښاغلي عابد د راستنو شویو د غوره خدمت له امله له یاد وزارت څخه مننه وکړه او په دغې برخه کې یې د اسلامي امارت هڅې اغېزمنې وبللې.

هغه زیاته کړه، چې اسلامي امارت د ولس او راستنو شویو ستونزو ته متوجه دی او خپل امکانات له اړمنو نه سپموي.

محترم مولوي عبدالکبیر وویل، چې اسلامي امارت د راستنو شویو د غوره خدمت لپاره ګڼو ادارو ته دندې سپارلې او هڅه کېږي، چې اړمنو ته د خوراکي او غیرخوراکي توکو اړینې مرستې ورسېږي.

نوموړي پر هغو هېوادونو نیوکه وکړه، چې افغانان یې په جبري ډول اېستلي دي او له کډوالو سره یې په نرم چلند تینګار وکړ.

ښاغلي وزیر څرګنده کړه، چې مرستې په راتلونکې ډول اړمنو ته رسېږي او په افغان سوداګرو یې غږ وکړ، چې د راستنو شویو لاس نیوی وکړي.

هغه د خبرو پر دوام وویل، چې له اړوندو ادارو سره په خبرو بوخت دي، تر څو د راستنو شویو د مېنو په بیا رغونه کې ونډه واخلي.

د مرستو په دغې لړۍ کې، چې تر دې دمه په لوګر، پکتیا او پکتیکا کې بشپړه شوې، په هر ولایت کې زرو کورنیو ته خوراکي توکي وېشل کېږي، چې ۲۵ کیلو وریجې، ۱۰ کیلو لوبیا، ۱۰ کیلو نخود، ۵۰ کیلو اوړه، ۲۰ کیلو بوره او ۱۵ لېټره غوړي پکې شامل دي.



## نشست هماهنگی میان کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزار شد

نشستی هماهنگی بر ریاست محترم الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان با حضور خانم ونیسا ماتر یولی معاون کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در افغانستان و نماینده شهرداری کابل، به منظور رسیده گی به مشکلات مهاجرین برگشت کننده برگزار شد.

در این نشست در خصوص اخذ زمین از شهرداری کابل بخاطر عرضه خدمات از جانب کمیشنری به برگشت کننده گان و هماهنگی وزارت در ایجاد سهولت کرایه آن با شهرداری بحث صورت گرفت.

معین مسلکی وزارت با ستایش از کارکرد کمیشنری بر تداوم همکاری این وزارت در امر رسیده گی به مشکلات برگشت کننده گان در چارچوب برنامه های حمایتی در کشور اطمینان داد.

خانم ونیسا ماتر یولی معاون کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان در افغانستان با قدردانی از همکاری این وزارت گفت: کمیشنری در نظر دارد با همکاری نهادهای همکار خدمات مختلف و متنوع را بر علاوه کمک های نقدی برای مهاجرین عودت‌کننده ارائه کند.

در همین حال، نماینده شهرداری کابل ضمن استقبال از این اقدام، کمک‌رسانی به مهاجرین عودت‌کننده را یک کار ارزشمند دانسته گفت: لازم است برای کاهش مشکلات آنان همکاری مشترک صورت گرفته و شهرداری کابل نیز تلاش می‌کند مشکلات را با مسئولان مربوط شریک ساخته و با همکاری وزارت امور مهاجرین برای حل آن اقدامات لازم را انجام دهد تا مهاجرین عودت‌کننده پس از بازگشت به کشور، از خدمات و سهولت های بیشتری برخوردار شوند.



## په مهاجرینو چارو وزارت کې د اسلامي امارت د بریا او فتحې پینځمه کلیزه ولمانځل شوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت په مسجد کې نن د ماسپښین له لمانځه وروسته د معینانو، رییسانو او د دغه وزارت کارکوونکو په شتون کې د اسلامي امارت د بریا او فتحې پینځمې کلیزې په مناسبت د قرانکریم ختم ځانګړې برنامه ترسره شوه.

د دې وزارت د مهاجرینو په چارو کې د موسسو د همغږۍ رییس محترم شیخ عبدالرحمن رحماني خبرې وکړې او ویې ویل: د مسلمانانو سره د الله ج نصرت دی او د فتحې ورځ د خوشحالۍ ورځ ده، موږ د کافرانو او ظالمانو له منګولو خلاص شوو او دا زموږ لپاره یو لوی نعمت دی او ټول باید د داسې ورځو شکر ادا کړو.

محترم رحماني د افغانستان خلکو قربانیو ته اشاره وکړه او ویلې ویل: د افغانستان خلکو ټولو غربي قدرتونو ته ماتې ورکړه، چې دا خوشحالي د ټولو لپاره د نیکیو یوه نښه ده او الله ج ټول تجاوز کوونکي کافران او اشغالګر د افغان مسلمانانو مجاهدینو په لاس خوار او ذلیل کړل.

هغه همدارنګه زیاته کړه: د الله ج نعمتونه بې شمېره دي او د کافرانو ماتې او ذلت باید د مسلمانانو لپاره د یو درس په توګه په نظر کې ونیول شي.

نوموړي د افغانستان په تاریخ کې د دې بریا پر اهمیت ټینګار وکړ، په هېواد کې د یرغلګرو په ماتولو کې یې د مسلمان مجاهد ولس د ایمان او عقیدې رول ته اشاره وکړه او د اسلامي ارزښتونو په اړه یې د یووالي او ملاتړ غوښتنه وکړه.

دغه مراسم د شهیدانو روح ته او د ټپیانو ته د بشپړې روغتیا په دعا سره پای ته ورسېدل.

## از اثر تلاش وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، در ولایت زابل برای صدها خانواده نیازمند برگشت کننده کمک های غذایی توزیع شد

برنامه توزیع مواد غذایی برای صد ها خانواده نیازمند برگشت کننده در مرکز ولایت زابل (شهر قلات) با حضور مسئولان محلی آن ولایت و نماینده گان وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزار گردید.

در آن برنامه، مولوی عبدالعلی جهادیار، رئیس امور مهاجرین ولایت زابل، با اشاره به مشکلات عودت‌کنندگان در آن ولایت، این‌گونه کمک ها را مهم دانسته افزود: برای حل دایمی مشکلات عودت‌کنندگان، باید در شهرک های رهایشی برای آنان خدمات لازم فراهم گردد و نیز به منظور توانمند سازی آنان برای اشتغال، زمینه آموزش‌های فنی و حرفه‌ای مهیا شود.

در برنامه متذکره، ملا فیض‌الله تمیم، معاون والی زابل، از تلاش های وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان در راستای رسیدگی به مشکلات عودت کننده گان قدردانی کرد و افزود: امارت اسلامی متعهد به حل دایمی مشکلات عودت کننده گان است.

در پایان برنامه، مفتی محمد فرید حبیب زی پیام محترم مولوی عبدالکبیر، وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان، را ارایه کرده همچنین به عودت کننده گان حاضر اطمینان داده شد که به مشکلات آنان رسیدگی خواهد شد و از همکاری نهاد های خیریه نیز قدردانی به عمل آمد.

این روند کمک رسانی که تاکنون در ولایت های لوگر، پکتیا، پکتیکا و زابل تکمیل شده است، در هر ولایت برای یک هزار خانواده بسته های مواد غذایی توزیع شده است که هر بسته شامل ۲۵ کیلوگرام برنج، ۱۰ کیلوگرام لوبیا، ۱۰ کیلوگرام نخود، ۵۰ کیلوگرام آرد، ۱۵ لیتر روغن و ۲۰ کیلوگرام شکر بوده و قرار است این برنامه به سایر ولایت ها نیز گسترش یابد.



## په کندهار کې سلګونو بېوزلو راستنو شویو کورنیو ته خوراکي توکي ووېشل شول

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت محترم مقام په دوامدارو هڅو، له ګاونډیو هېوادونو څخه راستنو شویو کورنیو ته د مرستو وېش په لړ کې دا ځل په کندهار کې سلګونو بېوزلو راستنو شویو کورنیو ته خوراکي توکي ووېشل شول.

په دې اړه جوړه شوې برنامه کې د کندهار د مهاجرینو چارو رییس مولوي ولي جان وویل، چې د راستنو شویو د ستونزو حل په موخه هغوی ته د خوراکي توکو د وېش تر څنګ د دایمي سرپناه چمتو کول هم په پلان کې دي. نوموړي له خیریه بنسټونو او سوداګرو وغوښتل، چې له اړمنو سره مرستو ته دوام ورکړي.

د مرستو دغه لړۍ په لوګر، پکتیا، پکتیکا، زابل او کندهار کې بشپړه شوې او ټاکلې ده، چې نورو ولایتونو ته هم وغځېږي.

دغه مرستې په هر ولایت کې زرو کورنیو ته وېشل کېږي، چې ۲۵ کیلو وریجې، ۱۰ کیلو لوبیا، ۱۰ کیلو نخود، ۵۰ کیلو اوړه، ۲۰ کیلو بوره او ۱۵ لیټره غوړي پکې شامل دي.



## آمر مهاجرین ولایت دایکندی با مسئول زون مرتفع دفتر هماهنگی کمک های بشری سازمان ملل دیدار کرد

آمر امور مهاجرین ولایت دایکندی با مسئول زون مرتفع دفتر هماهنگی کمک های بشری سازمان ملل متحد (OCHA) به تاریخ ۲۰ اسد دیدار کرد.

در آن دیدار وضعیت مهاجرین عودت‌کننده، بی‌جاشده، نبود سرپناه، دسترسی محدود به خدمات صحی و آموزشی، کمبود فرصت های کاری و عدم دسترسی به آب آشامیدنی مورد بحث قرار گرفت.

آمر مهاجرین بر اهمیت افزایش هماهنگی میان ادارات ذیربط اشاره کرده خواستار توجه بیشتر بر تامین کمک ها ایجاد فرصت های شغلی و تأمین سرپناه شد.

مسئول زون مرتفع اوچا نیز ضمن شنیدن مشکلات و پیشنهادهای مطرح شده، بر ضرورت هماهنگی میان نهادهای مسئول و سازمان های بشردوستانه برای شناسایی نیازهای واقعی خانواده‌های آسیب‌پذیر و ارائه کمک های مؤثر تأکید کرد.

## پاکستان کې د افغان مهاجرينو اتشو د ترافيکي پېښې د ټپيانو له کورنيو سره وکتل

په اسلام اباد او خيبر پښتونخوا کې د افغان مهاجرينو اتشو او په پاکستان کې د اسلامي امارت سفير او ځينو نورو مسوولينو په دغه هېواد کې د وروستي ترافيکي پېښې ټپيانو له کورنيو سره وکتل.

په دغې ليدنه کې د مهاجرينو اتشو د خيبرپښتونخوا ناصر سيمي اړوند باډي‌زيو سيمه کې د وروستي ترافيکي پېښې ټپيانو کورنيو ته تسليت ويلی دی.

همدارنګه د اسلامي امارت سفارت له لوري د ټپيانو درملنې لپاره ۵۵۰ زره کلداري نغدي ورکړل شوې دي.

د اسلامي امارت د استازوليو مسوولينو ډاډ ورکړ، چې په دغه هېواد کې د اسلامي امارت ټولې سياسي استازولۍ هر وخت د مهاجرينو ملاتړ ته ژمنې دي.

دا اقدام د افغان کډوالو د زيانمنو کورنيو د حقونو او امنيت خوندي ساتلو او همدارنګه د ټپيانو د درملنې بهير د اسانتيا او په پاکستان کې د هغوی د وضعيت ښه‌والي لپاره د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت هڅې او دوامداره ملاتړ څرګندوي.

## بیش از یکهزار تن مهاجر افغان پس از آزادی از زندان های پاکستان برگشت نمودند

۱۱۹۷ تن از زندانیان مهاجر افغان شامل خانواده ها، کودکان و مجردین که در زندان های پاکستان محبوس بودند، به کشور بازگشتند.

بر اساس گزارشات، ۱۱۱۹ تن از این زندانیان از طریق خط فرضی تورخم در ولایت ننگرهار و ۷۸ تن دیگر از طریق سپین بولدک در ولایت قندهار وارد افغانستان شده اند.

افراد یاد شده پس از سپری کردن مدت زمان های متعدد در بازداشت پس از ورود به کشور،در آمریت های انتقالات ثبت نام شدند و تحت مساعدت نهاد های همکار به محل‌های اصلی خود انتقال گردیدند.




## په ارزګان کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د سويل لويديځ زون له مسوولينو سره ناسته وشوه

د ارزګان د مهاجرينو چارو امر په مشرۍ، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ(UNHCR) د کندهار ولايت د مسوولينو په شتون کې د اړينو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د کډوالو وضعيت ارزونې په موخه ناسته وشوه.

د ياد ولايت د مهاجرينو چارو امر د کډوالو، په ځانګړې توګه له پاکستان او ايران څخه د راستنو شويو، شته ستونزو او خنډونو ته اشاره وکړه او ټينګار يې وکړ، چې دغه ولايت لومړنيو مرستو او سرپناه ته جدي اړتيا لري.

هغه ووېل، چې دغه امريت د راستنو شويو او بېځايه شويو اړتياوو پوره کولو په برخه کې له يادې کمېشنرۍ سره همکارۍ ته ژمن دی او د کډوالو وضعيت ته د لا ډېرې پاملرنې غوښتنه کوي.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مسوولينو په ياد ولايت کې د خپلو برنامو په اړه معلومات وړاندې کړل، د روانو پروژو پر دوامداره څارنې او له زيانمنو سره يې پر مرستو ټينګار وکړ.

## بیش از هزار خانواده در ۳ ولایت مساعدت شد

برای ۱۰۶۸ خانواده در ولایات کابل، لوگر، بغلان، کمک های نقدی، خوراکی توزیع شد.

طبق گزارشات، برای ۲۵ خانواده در کابل مبلغ ۳۲۵ هزار افغانی، برای ۱۰۰۰ خانواده در لوگر ۶ قلم مواد خوراکی و برای ۴۳ خانواده در بغلان مبلغ دو میلیون و ۷۲۴ هزار افغانی بخاطر اعمار سرپناه، کمک نهاد های همکار این وزارت بود که آنان مساعدت یاد شده را پس از شناسایی توسط ریاست ها و آمریت های مهاجرین در ولایات با هماهنگی و همکاری موسسات همکار دریافت نمودند.

طبق یک خبر دیگر برای ۶۳ تن از برگشت کننده گان در ولایت بغلان وسایل خیاطی و مبلغ ۵۳۳هزار افغانی وبرای ۱۰۸ تن در در ولایت سرپل مبلغ ۸۱ هزار افغانی بخاطر اخذ تذکره برقی کمک موسسات همکار این وزارت پس از شناسایی آنان توزیع شده است.



## دايکندي ولايت کې د کډوالو وضعيت ته د رسېدنې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين د فرمان پلي کولو په اړه ناسته وشوه

په دايکندي کې د دايمي مېشتېدنې ولايتي کمېټې غړو په شتون کې د کډوالو وضعيت ته د رسېدنې په موخه د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمان پلي کولو په اړه ناسته وشوه.

پيل کې د ياد ولايت مهاجرينو چارو امر د فرمان پلي کولو، د دايمي مېشتېدنې برنامو او راستنېدونکو ته د بنسټيزو خدمتونو برابرولو چټکتيا په اړه خبرې وکړې.

بيا د کمېټې غړو لاندې پرېکړې تصويب کړې، چې پکې د نيلي ښاروالۍ په همکارۍ د کډوالو ښارګوټي د سړکونو د کارونو بيا پيل، د کرنې رياست او مهاجرينو چارو امريت ترمنځ په همغږۍ د دريم نمبر ښارګوټي د ځمکې ټاکل او لېږد، د ځمکو د نومرو ارزول او د مناسبې حل لارې وړاندې کول، د کډوالو ښارګوټي پاتې ساحو ته د اوبو رسول، له موسسو او خيريه بنسټونو سره همکاري شامل دي.

په پای کې ګډونوالو د ياد فرمان د ښه پلي کېدو پر اړتيا، د دايمي مېشتېدنې پر چټکتيا او د ادارو ترمنځ پر همغږۍ ټينګار وکړ او د کډوالو د دايمي مېشتېدنې موخې ترلاسه کولو لپاره د هر اړخيزې همکارۍ ژمنه وشوه.